مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

رشید ۲۰۲۰/۰۲/۱۵

# غـم غـــزل

سیلاب د وینو را روان دی د تورتم له زړه نه
د خندا مرګ جنازې اخلي د پرتم له زړه نه

نور نو د نوح په شان امید له زړونو ووتلو
شراب بهیږي د خدای کوږکي د زمزم له زړه نه

ګوره ستا خپل کور د کفارو میکده شو، یاره
څه سپکې سپورې اورم نن ستا د حرم له زړه نه

موزیکی حوری خرڅوي په ابلیسانو دلته
اوښکې په لپو شوې روانې د شبنم له زړه نه

خال به دې یوسي د وحشت لښکرې غم مه کوه
دا تور چې تورکړې په دې توره د صنم له زړه نه

پوهیږې چل یې ما و تا ته د وژلو کړې دی
دا آهنګ اورم د دې نوي ډول د دَم له زړه نه

رشید
د ۲۰۲۰ دفبرورۍ ۱۴



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ